# په متحده ایالتونو کې د کورموندنې لارې چارې

## بیاکتنه



کله چې تاسو متحده ایالاتو ته ورسیږئ، تاسو باید خبر ووسئ چې ستاسو کور ممکن د هغه کور په څیر نه ښکاري کوم چې تاسو په تلویزیوني خپرونو، فلمونو یا اعلاناتو کې لیدلي وي. په متحده ایالاتو کې ډیری خلک په عادي، کوچنیو کورونو او اپارتمانونو کې ژوند کوي. ستاسو لپاره دا هم اړینه ده چې پوه شئ په متحده ایالاتو کې د کور کمښت شتون لري، او د هغو کسانو لپاره چې د استوګنې په لټه کې دي کافي کورونه شتون نلري - په ځانګړې توګه ارزانه یا دولتي کورونه.

## په متحده ایالتونو کې د خپل لومړی هستوکنې په اړه پوهېدل




کله چې تاسو متحده ایالتونو ته ورسیږی، کیدای شي تاسو په لنډ مهاله کور، لکه یوهوټل، پوهنتون ته څېرمه ودانۍ یا په یوه آپارتمان کې ځای پرځای شی. لنډمهاله کور اکثراً په مناسب ځای کې وي او د ژوند لومړني اړتیاوې لکه فرنیچر، د پخلي لوښي، د کالو مینځلو او نورې اسانتیاوې لري. د دایمې استوګنځې تر موندلو تاسو کیدای شي په لنډمهاله هستوګنځایونو کې د اوونیو یا میاشتو لپاره پاتې شی.



که ستاسو استوګنځای لنډمهاله وي او یا هم اوږدمهاله، خو ستاسواو ستاسو د کورنۍ دپاره به مناسب خواړه چمتو او پخلنځي کې به ځینې لومړني خوراکي توکي ذخیره شوي وي. ستاسو کور به شخصي حفظ الصحه او د کور پاکولو تجهیزات هم ولري.

## د اوږدمهاله هستوګنې پیدا کوول




په متحده ایالتونوکې د کور پیداکوول اکثراً ګران (قیمت) وي او د ژوند کوولو لپاره د یوه خوندي، پاک او ارزانه کورپیدا کوول هم خورا ستونزمن وي. په متحده ایالتونو کې د اوږدمهاله کور د لټون پرمهال ریښتیني توقعات او جوړجاړی اړین دي. موقعیت، اندازه، اسانتیا، او هوساینه (سهولت) باید ستاسو د میاشتني عاید سره سمون ولري. چیرې چې تاسو ژوند کوئ،د کور لګښتونه به ستاسو د میاشتني لګښتونو لویه برخه وي.

په لومړي سرکې چې کله تاسو متحده ایالتونو ته ورسیږی نو ستاسو به محدود عاید ولری. لومړی کور چې تاسو یې کیدای شي د نیوول وړتیا ولري ستاسو د ټولو هیلو سره سمون ونلري. که تاسو په متحده ایالاتونو کې په لومړیو اونیو کې په لنډمهاله (موقتي) کور، لکه هوټل یا Airbnb کې ژوند کړی وي ، نو ستاسو اوږدمهاله کورکیدای شي د لنډمهاله کور غوندې ښه او هوسا نه وي.



د وخت په تېرېدوسره چې څنګه ستاسو عاید، کرېډېټ او سپما زیاتیږې تاسو کولای شی چې ښه کور ومومی. په خپله ټولنه او سیمه کې د کورونو او هستوګنې د پیدا کوولو د پروسې سره آشنا کېدل هم کولای شي تاسو ته ستاسو د راتلونکې کور کوم چې ستاسو اړتیاوې پوره کولای شي پیدا کول آسانه کړي.


یواځې تاسو نه یاست چې په متحده ایالتونو کې د ارزانه کورونو په پیدا کوولو کې له ستونزوسره لاس او ګرېوان یاست یا مبارزه کوئ. په ټولو ۵۰ ایالتونو کې د ارزانه کورونو بحران شتون لري، چې نه یوازې کډوال او نور نوي راغلي کسان اغیزمنوي بلکې د متحده ایالاتو اتباع یې هم اغیزمن کړي.

# د خپل د کور د اړتیاوو په نښه کوول یا پیژندل


د کور د لټون د پیل څخه وړاندې تاسو باید د خپل کور او استوګنې د اړتیاوو په اړه ځان پوهه کړئ. دا هغه څه دي چې تاسو یې باید د کور د پیداکوولو په وخت کې ولرئ. د دې اړتیاوو په پیژندلو کې د مرستې لپاره:




تاسو باید خپل عاید محاسبه کړئ چې د کور د کرایې لپاره څومره بودیجې ته اړتیا لرئ او په دې هم پوهه شئ چې نور کوم لګښتونه په کې شامل دي. که تاسو کور په کرایه نیسی نو تاسو باید نور اضافي لګښتونه لکه بریښنا، اوبه، ګاز او بیمه هم په پام کې ونیسئ.



د خونو د شمېراو د موټر د تمځای (پارکېنګ) په ګډون د کور د اندازې (سایز) په اړه چې تاسو ورته اړتیا لری باید فکر وکړئ.



د ځان څخه وپوښتئ چې آیا د کور موقیعت ستاسو د کورنۍ اړتیاوې پوره کوي. د بېلګې په توګه، د کورڅخه د کار ترځایه او ښوونځي ته تګ یا د لارې واټن په پام کې ونیسئ او همداراز وګورئ چې عامه ټرانسپورټېشن شتون لری او که نه. که تاسو او یا هم ستاسو د کورنۍ کوم غړی معلولیت ولري اوځانګړو خدمتونوته اړتیاوي نو ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو کور یادې اړتیاوې پوره کولای شي.




په چم ګاونډ کې د بیړنیو خدمتونو لکه پولیس، روغتون یا د کلینیک د شتون څخه ډاډ ترلاسه کړئ.



یوه کورنۍ تر بلې توپیر لري او هره کورنۍ خپلې اړتیاوې لري. لاندې پوښتنې کولای شي چې ستاسو او ستاسو د کورنۍ ځانګړې اړتیاوې په ګوته او دا هم وښایي چې کوم کور ستاسو دپاره غوره دی.

Cultural Orientation Resource Exchange

For more information, visit Settle In at settleinus.org.

Refugee Housing SOLUTIONS

CORE Cultural Orientation Resource Exchange

This resource was created in partnership with Refugee Housing Solutions. Refugee Housing Solutions is a project of Church World Service under an agreement paid for by the U.S. Department of State.